انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۱۶/۰۴/۱۵

# مـــشـــر تــه!

لکه لوي غر د هندوکش هسی سنګین وی مشره
سـتره تکیه د افغان ولـس ته په یقین وی مشره
مشـــره نا پاکـــو ارادو دی پـه زړه زور ولـګاو
د انقـلاب په نـوم هر چا پـه وطن اور ولـګاو
چا پـه نـامـه د آزادی او چا د دین پـه نـامـه
د لـګیـدلي اور د پاســه پسـي نــور و لــګاو
یواځي تـه وی چي پـه دی وطن مـین وی مشره
ستره تکـیه د افغان ولـس ته په یقین وی مشره

** * **

د تـانـه وروسـته فرعونانو ته وطـن پاتـی شو
تر هغو وروسته سرو لیـوانو ته وطـن پاتـی شو
چی سره لیـوان خپلـو بچورو سـره و تښـتیدل
بیا نو وحشـي تورو پرانـګانو ته وطن پاتـی شو
خو ته ولاړ هر مصیبت ته کلک متین وی مشره
سـتره تکیه د افغان ولس ته پـه یقین وی مشره

** * **

مشـره! تا ولیـدل د ورونـو ګـزارونـه پـرون
چی مسلمان له مسلـمان غوښ کړه سرونه پرون
لا دی هم اخلـی مـکاران له نــوم نه ګـته مشره
هـم یــی اخسـتي وه دا ګـته خـرورونـه پرون



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

نور رهبران له مخی تور شو خو ته سپین وی مشره
یواځی ته وی چی په دی وطـن مین وی مشره

** * **

اروا دی ښاده او نصیب دی شـه جنت مشره
سـتا بـرکت دی الله ج کیـدی په ملـت مشره
تـر ځـــو پیـــدا کـه یوه لاره د نیــکۍ لاره
خاوری دی نشي ستا ارمان ستا محبت مشره
د دی وطـن په غم یـواځی ته غمګین وی مشره
لکه لوی غر د هندوکش هسی سنګین وی مشره
د افغاني سـتورو په منځ کی لکه لـمر وی مشره
د خپل ملت په حال له هرچـا ښه خبر وی مشره
د ملت پلاره وی ژونـدئ د خـپل ملت د پاره
هم یی بابا هم یی رهبر هـم یی دلــبر وی مشره
نن دی په ویر کی لـوی واړه ژاړی ارمان کوی
مشــره ژړا در پـسي لـوی افـغـانستان کوی

جنتونه دی په برخه مشره!

جولای/۲۶/ ۲۰۰۷